مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۵/۱۲/۱۶

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

۲۷مه‌برخه

لنډۍ، د ښتولو ستونزه

۳۵۵مه برخه

د هدیرې په لور رانه‌شي
زه دې په ژوند کې په لمبو سېځلې‌یمه

ما ته د ویرې تاویز وکړې
د لیوني پېریان پر ما راغلي‌دینه

زما د زړه پردېوالونو
ستا تصویرونه خدايي چاپ شوي‌دینه

ما نه په یوبنګړي خپه وه
اوس مې پرقبر درجنونه ماتوینه

د ګنو هغه ویدیوګانو له ډلي نه مې بیا څو ویدیوګاني ولیدلې او هغه لنډۍ چې نوې په نظر راغلې، راخوندي مې کړې، دلته یې له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

**نمک‌حرام وختي یاره**
**په نیمه‌لار کې دې یوازې پرېښنودمه**

**ما ورته واک د ځان ورکړی**
**ظالم اشنا مې د قصاب دوکان له وړینه**

**یاران دې دغه وعده وکړي**
**ما مسافر مړی به خپل وطن له وړینه**

**لورۍ د یار مې مالوم نه‌سو**
**پردوکوڅو کې پسې ډېر وګرځېدمه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ

**د هدیرې په لور رانه‌شي**
**زه دې په ژوند کې په لمبو سېځلی‌یمه**

**خلک اخترمبارکي‌کا**
**د افغانانو بچیان خیر تولوینه**

**په سترګو ړوند راپسې نه‌شوې**
**دا لباسي اوښکي د هرچا پرمخ‌ځینه**

**ستا به ګیله له ما نه کېږي**
**پرما پیرې د ښېلتانه ولاړې‌دینه**

**ورته مې راز د زړه ښکاره‌کړ**
**کم‌عقل یار د خپل پردو د خنداکړمه**

**یار په یوه‌اشاره پوه‌شي**
**کم‌اصل غواړي د کوتکو ګوزارونه**

**لباسي‌یاره خوښ مې نه‌شوې**
**ستا د لباس خندا له هرچا سره وینه**

**ما ته د ویرې تاویز وکړئ**
**د لیوني پېریان پر ما راغلي‌دینه**

دا ویدیو څلوردقیقي او ۲۳ثانیي ده، سندرغاړی یې عبدالله مقری دی. ځینې لنډۍ تکراري وې او په یوه نیمه لنډۍ ځکه پوه نه‌شوم چې د تلفظ په وخت کې د اعلان په ډول یوه بل‌غږ یې ملتیا کوله. له دې خبرو سره هم ما دا پاسنۍ لنډۍ ورنه راخوندي کړې. دا لاندې یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/751340331096039

**زما په ژوند کې چې رانغلې**
**بیا مې د قبر خوا کې مه ژاړه مئینه**

**چې په ژوندونه دې خوشحال نه کوم**
**په اخرت به له تا څه خوشحاله شمه**

**ژوندون مې بې‌یاره تېرېږي**
**ځکه بهېږي مې د اوښکو بارانونه**

**نن مې ښېلتونه په کور میلمه شو**
**په میلمستیا کې رانه یار جداکوینه**

**ښېلتونه خدای دې ځوانیمرګ که**
**چې دې زما په مینه اور ولګاونه**

دا ویدیو درې‌دقیقي او نهه څلویښت ثانیي ده، د فضل‌قیوم او صاحبزاده په نومونو دوه سندرغاړي په کې ټپې زمزمه کوي او ما پاسنۍ لنډۍ ورنه راخوندي کړې، دا لاندې یې لینک دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

https://www.facebook.com/reel/1670864887220663

**بلې ته وخېږه، راګوره**
**لکه د مني مياشت کړه ولاړه‌يمه**

**ديدن کوه، مه‌منعه کېږه**
**ملکـله بدې ورکوه، نه‌شته مرګونه**

**زما د زړه پردېوالونو**
**ستا تصويرونه خدايي چاپ شوي‌دينه**

**له يو زړګي نه بل ته لار وي**
**ته زما خوښ يې ستا به ولي بدې‌شمه**

دا ويديو ټوله درې‌پنځوس ثانيې ده، سندرغاړی يې نامالوم دی او ما له همدې لنډې ويديو نه دا څلور لنډۍ راخپلې کړې، دا لاندې يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/1477295077253931

دا لاندې لنډۍ مې له يوې ويديو نه راوليکلې چې دوې‌دقيقې او شپاړس‌ثانيې ده، سندرغاړي يې زه نه پېژنم، خو په لنډيو کې يو سندر غاړی د عرب ګل نوم يادوي: «له عربـګل سره جوړه مصرۍ کومه»

**د چا دادا به ورته تينګ شي**
**پرګلابي شونډو د ژبې‌سر وهينه**

**ګلاب چې مړاوی شي رژېږي**
**سترګې چې مړاوې شي، ملکونه ورانوينه**

**د پيرمحمد خاطر له‌پاره**
**له عربـګل سره جوړه مصرۍ کومه**

https://www.facebook.com/reel/2436477643438946

**ما ته لږم په سګرت کېږده**
**کمزوري‌بنګ دي د يارغم نه‌کموينه**

**سترګې مه‌ترېوه چې مرشم**
**ګورم چې څوک مې ترلحدپورې راځينه**

**مرګې خو حق دی، په مورجانې**
**بېګاه نه وروسته مې سا لنډه، لنډه‌شينه**

**ما نه په يوبنګړي خپه وه**
**اوس مې پرقبر درجنونه ماتوينه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**چې مې په تورلحد کې پټکړي**
**تـرکـوره تـلـل بـه دې بـلاوژړويـنـه**

پاسنۍ لنډۍ مې له داسې يوې ويډيو نه راخوندي کړې چې خلک په يوه ازاده فضا کې غلي ناست دي، سندرغاړی سوې لنډۍ زمزمه کوي، خو له بدهشامته چې د ويډيو وروستۍ برخه کې غږ ورکېږي. ويډيو درېدقيقي او پنځوس ثانيې ده، دا لاندې يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/1159755133006987

**د سترګو تورلالی مې نهشته**
**خلکو پر ورانهبلی چا ته ودرېږمه**

**زما د زړه په څړيکو نهده**
**د خپلې‌ګوتې په درد کلي خبروينه**

**بېلتونه دې داسې احساسېږي**
**لکه چې ګوته دروازه کې بندهشينه**

**زما په حال خبرهخدايه**
**جانان زما په حال خبرکه چې راځينه**

**بيا د سهاربانګونه وشول**
**غمه اوږو ته مې راځيژه چې دې وړمه**

دا لومړنۍ ويډيو ده چې يو تن پرته له موزيک نه يوتن په ترنم سره لنډۍ زمزمه کوي، ويډيو يوهدقيقه او اتهلس ثانيې ده، ما دا پاسنۍ لنډۍ ورنه راخوني کړې، دا يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/862203756248962

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ